کابل ناته شماره ۹۶، سال پنجم، ثور/جوازی ۱۳۸۸ هجری خورشیدی می ۲۰۰۹ میلادی

هیو



**وفا سمندر**

**۱۳۸۷کال سلواغه**

# اووه زوروړي ورځې!

**نن يې دويمه وه:**

غرڅه په اړخ پرته وه، درد په خټ کړه. چيغه يې شوه؛ مور برېستن پرې واړوله، پرېيې ښوه، څنګ ته شوه. د نجلۍ ساه وچه شوه، ورکه شوه، اوږده وغځيده؛ درد پورته کړه. چيغه يې شوه. مور پورته شوه، ليرې شوه، هيسته شوه، ورکه شوه.

پلار په ګونډو ناست وه، هغه نور د اوروونو غولی وه. اوروونه د هغه وه او په هغه کې لاندې باندې کيدل. د غرڅې يوه يوه چيغه عرش ته رسيده او له پاسه پر دغه اورلن زړه را څڅيده. زړه يې له دومره عذابه داسې شين شين الوته را الوته، لکه ټول نومونه چې اوروونو خوړلي او اوروونه دغه بنيادم په ځان نونيستلي وي.

مور په تياره کې ناسته وه، تشه، خالي، ماته، ګوډه. لاسونه يې خوځول، څه نه جوړيدل. څوک نه وه. د خبرو څوک نه وه. شيان او آدميان تش، وچ، خالي او سرخوړلي په خپلو ښو او غوښو را ځړيدل او زنګيدل. مور په خپلو غوښو او هډوکو کې همدا لوستونه خوړل او څښل. څه شی نه وه چې ويې ژويي، ويې چيچي، ورکه يې کړي. چاره نه وه، کښيناسته. خوله يې په وچو او څيلې وهلو چيغو ډکه وه. خدای يوازې همدا ليده.

ورور نغري کې کچالان پخول. له اوره ډکې پچې، اغزي او سيندريګي(د غرو يو ډول ازغي) يې په شنو خامو کنګل وهلو کچالانو اړول را اړول. د غرڅې چيغې ختې. هلک په اور نارې ورغورځولې. په سرو سرو ډکو او پچو کې ډزو ډوز روان وه او دا سرې تناکې د هلک په سترګو خط خط پريوتې او دغه سور لښکر دننه ننوت، د شيطان چونۍ دننه وه. هغه کې دننه څه شی وه چې لا نه د څيرې وه او نه د نوم او دغه آدم تش لاسونه د نغري د اوروونو غړونو ته ناست وه.

دا دريمه ورځ وه، څوک له چا خبر نه وه. هر څوک پکو، پړسيدلي په ځان ننوتي او همالته په منزل وو. نجلۍ څيرلې اوښته را اوښته. مور په خانداني داروګانو پسې ټول زاړه او تياره کونجونه او سندوکونه راوشکول او له زړو او بيرنګه غوټو يې

ترخې ترخې خاورې، شګې او دم کړې مالګې راویستلې او ستورو ته ایښوولو میږې شودو او د کاریز له اوبو سره یې د لور په خوله کې تودې تودې ورتویولې؛ خو د ګیډې ښکاره زخمونه لاپرسیدل او دومره چیغې په مور ننوتې، هلته وچیدې.
مور په بې رنګه اورونو را ډکیده؛ خو د باندې سره څیله وه: د غرو له ډډو یو لیوه راووت. خبره د خلکو خولې ته لویده. هدیره بلاربه وه نوی کبر را په لاره وه او هغو ټولو دغې مور ته را کتل. هرڅه پردې را روان وو. د ځمکې او هسک لاره پر هغې وه. مور دومره انتظار وه؛ خو چا نه لیده! شیان، آدمیان، څیرې او خبرې ټولې مړې او کرختې وې.
نن یې دریمه ورځ وه، چې مور او ورور لور له هغه حرموني بیغه او په تیاره کوټه کې له خدای او خلکو جلا کړې وه. پلار په خونه کې پټ وو؛ خو غوجله یې سترګو ته کیده. له غوجلې د نجونو او هلکانو سپین او تور نومونه او کپنونه راوتل او د پلار پر ټټر تیریدل. پلار شیطان لاحوله...کاوه، خو د نومونو شمعې بیا بیا له غوجلې دده پر خوا را تللې. خداي یوازې دی لیدلای وه. چوپه چوپتیا وه. هیڅوک نه غږیدل. ټول په ځان ننوتي او په ځان کې زیرمه کیدل.
دا اورونه او دردونه د خداي له خوا وه. ټولو خپل ګریوانونه ځانته ورښکارول. درې واړه پخپل غم ککړ وو. دغه «لښته» شیبه په شیبه زیاتیده او پر دوی لګیده. مور وسقیده، چوپه شوه، بیا پر زوی ورلویده: «تا ته چاویلې چې دومره ژر لیوه شه...اخر خور دې وه ظالمه. لیوه... انسانخوره! وای وای خدایا خلکو ته به څنګه مخ ښکاروم. سیالانو ته به څه وایم»
علي محمد په نغري ور پریوت. اور یې پو کړ، پو کړ، پو کړ...له نغري شنه دودونه او د پچو او سیندریګو وچه ایره راپورته شول او د هغه ستونی، سترګې او سوږمې یې وپوښلې. هغه په دومره تنګو دیوالونو کې یوازې وه. خور چیغو نیولې وه. پلار د زړه غرونه د تسپو په ټک ټک اواراول او مور ده ته خوله پیدا کړې وه. هغه بیرته دغه سور زړه پر مور ور تش کړ:«شاه بې بې! بار پر ما ولې را اچوې، تا پیغور را کاوه. تا راباندې وکړل. تاویلې:«له داسې ژونده چې ټیکری پر سر کړې ښه دی...وګوره پنځه میاشتې وشوې! پنځه میاشتې...له کومه ځایه یو شیطان راځي، د تا په ګل غوندې نازکه خور سترګې سرې کوي. له موټر ورته را ښکته کیږي، او دا شرم مونږ ته را پریږدي...اوس یې غم وکړه» مورې راشه مړ مې کړه؛ خو دا ماته مه وایه، ځانته دې ووایه...موري دواړو کړې. دواړووو کړي ي ي ي...
نور غږ ولاړ، ورک شو. هغه لیرې چیرې ژړل؛ خو سر پورې یې څوک شخ ولاړ وه. یوازې هغه لیدل چې نااشنا ځمکه کې، نا اشنا څیرې هغه ښښه کړی. هلک اورونه پو کول؛ لکه هلته چې کومې نا اشنا دړې ته لاره پاکوي، خپله هم نه پوهیده؛ خو زور یې هماغه خوا منډه وهله. ناڅاپه یې له نظره یو تصویر تیر شو...غرڅه وه او هغه ببر ایږ. محمد علي خپلې غبرګې ګوتې له تاوکړو جنډو سره په سره اور ننویستې، هغه غوښتل خپل زور له اور سره ووهي. پر هغه لړزه راغله، وویرېډ که دومره زور دباندې خوشې شي هدیرې به څوک جوړوي.

+++

**دادی څلورمه ورځ شوه:**
پلار چې د نسوارو د کوټي په هنداره هرڅومره ځان زړه ور خوشې کړ؛ ژړاوې یې ونه لیدې. مور وچه ولاړه وه؛ یا ناسته وه؛ یا پرته وه؛ نه پوهیده؛ هغې خبره ورکه کړې وه. هغه په وروستی خبره پسې سرګردانه وه. «خبره» وه؛ خو هغې نه لیده! اخر دغه ټپ سر راښکاره کړ، هغې لاسونه سره وپړکول:«توریالیه، زما له حاله خبر شې! زما له دردہ لیونی شې...ما خو داسې نه غوښتل؛ ما خو لور جوړه غوښته...وای وای خدایا په کومه خوا لاړه شم؛ په کومه خوا لاره وکړم؛ چا ته ګریوان څیرې کړم؛ دومره غم په کوم اور کې واچوم »
مور په خپل ځای کښیناسته. هغه پوه شوه چې خبره بل چیرې ده. هغه پوهیده چې خدای یې نه اوري. هغې مور نه درلوده چې پردې وطن کې یې واده کړې. لور ته یې کتل، خو څوک نه وو چې د هغې د غم عکس جوړ کړي. مور دیوال ته کتل، عکس پرې لوی وه. هغه زوی ته ولاړه، عکس وښوید، لوی شو، له کوره ووت، له بامه لوړ شو، په غرو ور پریوت آسمان یې ډک کړ. واورې راتللې او غم یې په غرونو، کلیو او کورونو، آدمیانو او دغې هاجرې لپې لپې څښه. هغې نړۍ په ځان کې لاندې باندې کړه، خو لا ولاړه وه. هغه ورځ هم ورباندې تیره شوه.

+++

**نن يې پنځمه ورځ وه:**

هغه وخوځېده، له ځانه ووته، له خونې او د لور له غمه ولاړه، خپره شوه، په لارو وتښتېده، په غرونو وختله، لمر او سپوږمۍ او ستوريو ته ورسېده، ټوله دنيا يې په ځان کې ولېده. دا ټولې د هغې اوښکې وې چې نانځکې نانځکې ځمکې ته را کوزې شوې وې.

هغې د بابا د غره په واورو پښه کېښوده، لا خبره نشوه. په واورو کې وښويده، لا وينبه نه شوه. د حاجيګک له کوتله کوزه راولويده، لا ژوبله نشو. د ليوانو او سورلنډيانو په سوړو ورننوته. ليوانو او کارغانو او ټپسانو سورۍ سورۍ او مړۍ مړۍ کړه؛ خو ورکه نشوه.

«مور»، ګلرخ، شاه پري، مريم، امنه، رقيه، شاه بي بي، لبنته، ګلسومه، الماسه...هاجره، ټول د هغې نومونه وه. مخته ولاړه، اوبه، خاوره، اور، باد هم نومونه وه. ځمکه، وچه، هيواد، ډبره، ياقوت، اتوم هم نومونه وه او له هغې راڅڅېدلي وو. هغه هرځل په يوه نوم کې اوسيدلې وه. راپه څڼ شوه، زمرى، شاه ولي، شاه علي، شاه احمد، غلام محمود، سردارعلي، شمس، ايزوپ او ملاعلي، سمندر...هم ددې په ټنډه سپاره نومونه او بختونه وه چې هغه يې د زمانې يادډښت پاڼه جوړه کړې وه. مور درز ولويده، پاتې شوه او مرګ ليرې ولاړه وو؛ هيڅ يې لاس نه ورکاوه! ښايي دغې زړې اروا به غوښتل په نومونو پښې کيږدي، وړاندې تيره شي، نومونه ورک شي، يوازې پاتې شي، يوازې خداى سره «يوازيتوب د خداى کور دى.»

دا پنځمه وه چې خوب او خوراک له دې کاله کډه کړې وه. دا اورلنه زمانه دوى له بل جنس جوړه کړې وه او هماغه ناڅرګند جنس يې خوراک او څښاک وه. دې وضعيت د څيزونو او شيبو ماهيت اړولى وه. دا لومړۍ ورځې وې چې يوه آدم، يوې حوا له يوه قابيل او يوې لرغونې ديانا سره دغې تازه وچې ته لاره را کړې وه.

+++

شپږ ورځې وشوې نجلۍ مړه نشوه، جوړه هم نشوه، بله خبره هم ونشوه. خداى هم د چا غږ نه اوريده. دوى له خلکو او ولس څخه راپټ شوي وو او خداى هم هير کړي وو. دلته نوى مکان او نوى زمان غيږه پرانستې وه.

نجلۍ شنه پنه، پړسيدلې او په وچو اورونو کې خړپيده او ښوريده. ساه يې لکه، اور داسې وته. خونه هماسې وچه، ککړه، سړه، نمجنه ولاړه وه. ديوالونه خړ خړ ولاړه وه او له چت څخه د ګور د چنجيو بوى را تويده. نجلۍ، ګلبسه، نسيمه، شاهپرى، ګلسوم، ملکه، فاطمه...په خپلو شنو غوښو کې تويده او نور نومونه ورياديدل. کاترين. فاطمه، زليخا، هاجره، ګلسوم، ملکه او داسې مذکر او مخنث نومونه. دغه غوڅ شوي نيم ژوانده کالبوت دومره ورځې له خپلو چيغو او زګيرويو جوړولې.

غرڅې دومره سره شپه ځکه موندلې وه چې نوم يې وه. که نوم يې نه واى، درد يې بې ادرسه کيده، درد ځاى له لاسه ورکاوه. د آدم، حوا اوغرڅې دغې کورنۍ، نومونه يو بل ته غلط تکرارول. يوځل هلک پلار ته د هابيل نوم واخيست. مور لور ته مور وويل او نجلۍ د قابيل نوم واخيست، چې له دې سره درېواړه خپلوان څک کښيناستل.

درد همدا نوم وه. نومونه لومړنۍ خبرې وې چې دغه نوي نژاد را په يادولې. نومونه هغه اورګاډي وو چې تاريخ په کې منزل کاوه. دغه آدم او حوا او...چې له زمان او تاريخ څخه تيرى کړى وه، په يو څو نومونو کې را ايساروو. دغه د خلقت اونۍ سبا ته بشپړيده، دادى شپږمه ورځ يې داسې تيره شوه.

+++

**د پيل ورځ:**

چوپه چوپیا وه. غړونه او ټکانونه را لویدلې وو. ټول وچ، ساړه، بې مالګې او څیلې وهلي شنه شنه ولاړ وو. تاشکه ویلې چې د اسرافیل شپیلۍ ټول ژوند وژلی او یوازې دوی دریواړه پاتې دي، چې دغه پټ پور پرې کړي. هغوی هم وچ ولاړ وو. زوی او مور همداسې ورځ له خدایه غوښته.

خبره یې تیره شپه سره پخه کړې وه او اوس یې مخې سره همدا یو کار وه. دریواړه څه شي د غوجلې دړې سره ودرولې وو. زوی مور ته کتل، مور له ځان سره ځانته وګواښیده:«ماته چا ویلې چې غټه نجلۍ یوازې ولیږم...او بیا په لوړه، مخ په غوجله له دې نارې سره:«باید د هوا مرغان هم خبر نشي.»

محمد علي لاس واچاوه نجلۍ یې را ټینګه کړه: «د مور خبره ومنه، کنه رسوا کیږې. ګیلې ته دې ګوره، چې له کوره داسې ووتلې خبره بوی کوي.»

ګلسومه له شرمه ورکه ورکه وه. هغې کمیس، پړونی او لستوڼی ټول د مخ په لور کشول، چې ویې نه ویني. مور زړه لوی کړ:«علي محمد رښتیا وایي. غیرت وکړه، ژر دې له دې شرمه خلاصوو...خدای یې اوري! بله څه چاره، بله څه چاره...»

ورور دومره درنه څوارلس کلنه نجلۍ په اوږه واړوله او مور ترې مخکې شوه، د غوجلې دړه یې پرانستې ونیوه. هلک نجلۍ دننه کړه.

+++

**شیبه وروسته:**

اریکن لګیده او «الماسې» زوړ نیمڅې، چې د لنګې غوا له ډډو را خلاص کړې وه، د غوجلۍ د غوبل شویو نمجنو پڅو او خوشایو د پاسه وغوړاوه او بیا ورور خور پرې را کوزه کړه. هغه لکه خدای چې نه وي جوړه کړې، شرم او ننګ سوځولې د غوجلې ککړ دیوال ته غونجه شوه. مور د پړوني له پیڅکي یو نخود افین راخلاص او په زور د هغې په خولې ورننویستل: «کلمه دې وایه! دا ښه ښه ژویه! مور دې ژر له دې شرمه خلاصوو...ګوره که دې غږ پورته شو، دنیا به راباندې وخندوې، ناکسې!»

علي له جیبه د ږیرې خریلو یوه بسته پاکۍ راوکاږلې. مور یې له ډیره فشاره غاښونه وچیچل چې نجلۍ ټینګه ونیسي. نجلۍ لکه په اور چې لګیدلې وي، لغته واره کړه. الماسه په ښي اړخ کږه شوه، هلته د اوخور د پاسه د خره کته ایښې وه. مور کته د غرڅې په سر ور کیښوده، او ورلاندې یې لاس تیر کړ چې نور افین یې په خوله کې ورکړي، چې دواړه ګوتې یې په څړیکو شوې، لاس یې را کش کړ«کم اصلې خولې هم ته اچوې... ته د وژلو یې.» هلک د ټټر پر سر یو ټینګ سوک ورکړ، ورسره چوپه چوپیا شوه. مور زوی ته په لاس او خوله چوپه اشاره وکړه چې ځنډ مه کوه«که د ما لور یې، نو دغسې ځان چوپ ونیسه. په دې کار سره ستا سر د وهلو دی، دا شرم به همدا اوس پاکوو!»

+++

شیبه وروسته:ورور لګیا شو، لکه د دوزخ په شنه ونه چې منعه کولو نصیحت لیکي.

+++

**شیبه وروسته:**د کلیوالي خلیفه ګانو د سر او سنتونو چوړکۍ له نوې پاکې سره په تلوار د غرڅې د ګیلې نازک؛ خو خیرن پوټکی وڅیره. په دغه خط سوربخار څړیکه وکړه؛ چیغه د ښځې له ګوګله را ولویده«اه ه ه...خدایا همدا دې غوښتل». وروپسې سرې اوښکې راپورته شوې، وینې وې. عليمحمد پاکې وغورځوله. د ډډ نس د پاسه سره کرښه یې په دواړو لاسو بیله کړه. یوه لویشت خوله وازه شوه. له خولې وینې را خوټیدلې. علي محمد وینې د ځان او سورۍ شوې غرڅې په لمنو پاکې کړې. د نس تر پرې ژۍ لاندې سپین پوټکی وه. بله پاکې یې راوویسته په چوړکۍ کې یې ورکړه او په سپین نس یې سور خط وویست. تر پالانې لاندې غژ غژ غژ روان وه. «زمري» ګنله چې پیرې په غرڅې ننوتلې. چوړکۍ ننوته، واز نس کې ورکه شوه. د مور د غاښوغژهارې خوت. علي له دغه اوره سور، غټ کچالو راوویست، مورته یې ونیو. الماسې وانه

خیست. هلک وغورځاو او وینو له یوې لویشتې پرې خولې نورې لاړې هم وکړې. مور سترګې درلودې، خو زړه یې نه درلود چې لاندې وګوري. هغې ټول زور د یوې ناښادې په اوږو جوړ کړی وه. د خره له کټې د خورررخوررر...غړ خوت.

+++

**شیبه وروسته:**........................................................................................................................

+++

شیبه وروسته نه څوک خررریدل، نه پیری وه او نه چا غاښونه غژول. ښځې د نس وازه خوله د جامو په ستن وګنډله. وینې خلاصې شوې، نه بهیدې. ورور د جیب ګلسیب دسمال وسوځاوه او د هغه توده ایره یې د سورۍ شوې غرڅې پر ګنډلې ګیډه ور واړوله او مور هم خپل کات کړی سوچه چادر نماز د هغې پر ګیډه او ملا سم تاو را تاو کړ. د غرڅې سترګې نیمې خلاصې وې. پر شونډو یې د وینو وچ پوټکي ولاړ وو. مور مست ژړل، خو د سترګو غړ یې نه خوت. هغې خدایزده چاته ویلې: «ظالمه، ناترسه، بې دینه، لیوه، انسانخوره» علي محمد سوړ کالبوت ته غیږه ورکړه او خور یې خونه کې یوازې واچوله.

+++

**په اوومه ورځ:**

«...بشري حقونو سازمانونو دغه پیښه په کلکو ټکو کې غندلې. له کابل څخه زموږ خبریال د خپل راپور په پای زیاتوي چې د تاوتریخوالي دا ډول پیښه ددې ګواښ له ځانه سره لري چې د کورنیو د مشرانو لخوا دا ډول چلند په یوه بل ناوړه دود وانه وړي، دا ځکه چې په دغه خاوره ناوړه چلندونه، چې خلک یې غیرت بولي، ډیر ژر په یوه دود بدلیږي...» د پولیسو د ګاډي د لوړ هارند له غږونو سره محمد علي راډیو له ځان سره واخسته، ووت او مخامخ بام ته پورته شو.

پولیس د «شیخ» او څو تنو مخورو په ملتیا په کور ننوتل. پلار د پولیسو د رنجر موټر په دویم سیټ کې داسې ځب ځب ناست وه چې تابه ویلې سترګې یې وچې، شونډې یې وچې، مخ او د بدن پټ غړي یې وچ شوي. واړه، زاړه، ځوانان اریان اریان پر موټر را تاویدل او هغه وچ ناست بنیادم بې ساه بې ساه هغه څه لیدل چې د یوه سیلاني قد هم نه ور رسیده.

+++

پولیسو کور ولټاوه. علي نه وه. مور د پولیسو له خولې د لور د خبر په اوریدلو سره زوپ وکړ، ولویده. د ګاونډ ښځې د ګوړې شربت ورکړ، هغه بیرته را په سد شوه، خو لکه ټول پوټکی دې چې له واورې ورډک کړی وي. له دولتي کسانو څخه چا دهغې عکس واخیست، یوه بهرنۍ ښځه چې له هیبت سره راغلې، قومندان ته ورنیږدې شوه، څه یې ورته پخپله ژبه وویل. ښایي هغې پوښتلي وي چې د واورین بنیادم عکس اخستلای شم!

+++

پولیسو په علي محمد پسې کور لټ په لټ کړ، خو وروستی لاس په سر شول او د خره کته، د خلیفه چوړکی، د محمد علي په وینو لړلی لمن یې راټول او له ځان سره واخیستل. شیخ او نور مخور جومات ته شول چې دا شرم څنګه پټ او ددغې وریپښې ورځې کارونه سره وویشي.

شیبه وروسته دوه کلیوال هلکان چې لاسونه یې ددغه کور واورو توږلو سره اړولي وو، یو بل ته غږیدل:

– څه دووس سړی وه، یوه لوربې وه، ویې نشوای ساتلای...هرڅه چې وو اوس یې باید خبره همدلته پټه کړې وه، حکومت یې چا ویستلی!؟

– تیره ورځ یې کلي کې ډنډوره اچولې وه چې ګلسوم سپي خوړلی، مرکز ته یې بیایم!

– پولیسو ویلې چې غرڅه په روغتون کې ده، د جوړیدو نه ده...خو که جوړه شوه ته ورسره واده کوې، پلارېې والله که روپۍ در نه وغواړي.
کلیوال هلک خپل همزولی په واوره وویشته:
-د دوس زو همدا دې راباندې ولوریده...
هلک بیرته په همزولي د واورې ګوزار وکړ:
– مسلمانه ټوکه مې درسره وکړه: داسې بدلمنې سره امریکایی هم واده نه کوي. هغه یوه لار لري.
دواړه: مرګ!
دې وخت کې د نړیوالو ځواکونو یوه پوځي چورلکه د شنه آسمان له مینځه پر دوی راټیټه شوه. کلیوال ځوانان ځای پرځای هیښ ودریدل. بهرنۍ ښځینه سرتیرې چې د چورلکې د څټ پرانستي پولادي وره سره د نصب کړې درنې ماشینګنې څټ ته ناسته وه، ځوانانو ته د ازادۍ غږ اخبار را وغورځاوه.
د اخبار په لومړي مخ د امریکي د ازادۍ مجسمه ولاړه وه. ځوان هلک ها بل ته کړل:
ګوره دا څه غټه بلا ده که ملاصیبان ور ورسیدل ډز به یې وباسي!
بل ور ته کړل: که د ما په زړه کیدلای خرڅوله مې...
دویم په خبرو کې ور ولوید: اوکوژدنه دې پرې را ودوله!
دواړو وخندلو، خو د کوژدن هلک سترګې له هغو اوښکو ډکې شوې چې پرینښتې یې جوړولې! دویم هلک خبره تازه کړه: ددی وسپنیزې ناوې په پیسو ترڅلورو هم زیات ودونه کیږي!
لومړي هلک چې د واورو په پاغونډه یې د خپلو سترګو بخار سوزاوه، په خوله کې ور ولوید:
دا دې لا واده کړی...
ولې خدای څلور روا کړي! دې وخت کې له لیرې د بې پیلوټه الوتکې غوږږږږږږ...شو او هرڅه ګوښې ته شول. دواړه زلمیان اریان ودریدل، لکه واورینې مجسمې داسې شول. فلزي باښه چې رانیږدې کیدله، دویم هلک، چې څلور ښځې یې روا بللې، د ازادۍ غږ اخبار د سر دپاسه خور ونیو. کوژدن هلک هم ورسره جوخت شو، بې پایلوټه الوتکه غژژژژژژژتیره شوه.
په هغه ورځ د سیمې د واړه بازاره د نصوارو هټۍ ښه وچلیده. د دواړو هلکانو د کیسې په اوریدلو سره هرڅوک دې هټۍ ته را تاویدل او د ازادۍ غږ اخبار ګڼه یې غوښته. هټیوال چې د ازادۍ د مجسمې زور ولید، نو ړومبی یې پر خپله هټۍ دغه اخبار ونښلاوه اوبیا یې نورو ته بیه ورباندې کیښوده، خو کلیوالو دا پیسې پیدا کولې.
تر ماسپښنین مهال پورې د کلي څیره د ازادۍ د مجسمې په منظره بدله شوه. د نړیوالې مرستې او همکاري (ایساف)د ځواکونو چورلکه د کلي په فضا کې تله او راتله او مستند جوړونکو له دې رنګ شوي کلي فلم جوړاوه، خوبیا پرکلي بې پیلوټه الوتکه را تاو نشوه. کلي کې اوازه وه چې د پي ار ټي ډلې ته د سیمې یوې ډلو روڼاندو وړاندیز کړی، چې ولایت ته له بیلو کړو پیسو دی د ازادۍ یوه بله مجسمه جوړه او د غرڅې دوی د تش او ساړه کور پر ځای چې نور نو د کوڅو سپې پکې ویدیدل، ودروي.

پای